# شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د حدیث شریف ژباړه**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:** که له تاسو څخه یو څوک په چا کې منکر عمل وویني، نو په لاس سره ئې منع کوئ که مو وس ونه رسېده، په ژبه یا ویلو سره ئې منع کوئ او که مو بیا هم زور پرې ونه رسېده؛ نو په زړه کې ئې بد وګنئ (بد و ایسوئ)، چې دا تر ټولو کمزوری ایمان دئ.

[صحیح مسلم بیان کون النهي عن المنکر من الایمان وان الایمان یذیرو ینقص وان المر باالمعروف الي (ص: ٥١ ج: ١)].

**ترجمه حدیث شریف**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:** اگر از جمع شما فردی را با عمل منکر مشاهده کردید، آنرا با دستان تان منع کنید، اگر قادر نبودید وی را به زبان منع کنید و اگر باز هم ناتوان بودید آن شخص را قلباً نفرین کنید. که این ضعیف ترین ایمان است. [صحیح مسلم بیان کون النهي عن المنکر من الایمان وان الایمان یذیرو ینقص وان المر باالمعروف الي (ص: ٥١ ج: ١)].

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه | د شعبان المعظم ٢٣-١٤٤٦ال س/ د کب ٤-١٤٠٣ال ل/ د فیبروري ٢٢-٢٠٢٥ز/څلورم کال / ١٣٣ ګڼه/ ٤ مخیزه




## سرمقاله

### د ګمرکونو لوی ریاست بې اسناده وسایطو ته د قانوني سند ورکړه ګړندۍ کړي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د حکم له مخې د هیواد په کچه د بې اسناده موټرونو او موټر سایکلونو د ثبت او محصول پروسه لا ډېره پخوا پیل کړې وه، چې د ثبت او محصول دغه پروسه د هیواد په اوو ګمرکونو (کابل، هرات، بلخ، ننګرهار، کندهار، کندوز او خوست/ پکتیا) کې اوس هم په پوره چټکتیا سره روانه ده او د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال تر پایه به دوام وکړي. په دې پروسه کې د موټرونو او موټر سایکلونو مالکینو ته غوره تخفیف په پام کې نیول سوی؛ څو دوی له کومې ستونزې پرته خپل وسایط ثبت او محصول کړي او ترڅنګ ئې په ذکر سویو ګمرکونو کې د وسایطو مالکینو ته ګڼې اسانتیاوې په پام کې نیول سوي دي، چې یو له هغو څخه د واحد کاري مرکز (ون شاپ سټاپ) جوړېدل دي او موخه ئې داده، چې د ثبت او محصول ټول بهیر تر یوه چتر لاندي او د یوې واحدې کاري قوې په ملتیا مخته لاړ سي. په ټوله کې د دغه بهیر د پیلېدو او چټکېدو موخه داده، چې په ټول هیواد کې د جنایي جرمونو مخنیوی وسي، د وسایطو مالکینو ته په لویو لارو کې د امنیتي ځواکونو له لوري کوم سرخوړی پیدا نه سي، که خدای مه کړه کومه امنیتي پېښه ترسره کېږي امنیتي ځواکونه وکولای سي تورن کسان او وسایط په اسانۍ سره ومومي او همداشان افغانستان د قانوني وسایطو په لرلو سره د نړیوال معیار سرحد ته ورسېږي. همدارنګه باید ووایو، چې د بې اسناده هر رنګه وسایطو د ثبت او محصول پروسه په ټولو ګمرکي ولایتونو کې لا پخوا پیل سوې وه، چې اوس هم په عادي ډول روانه ده، خو د ګمرکونو لوی ریاست بیا په یوه نوي اقدام کې دغه بهیر په هغو ولایتونو کې هم پیل کړ، چې په هغه ولایت کې ګمرک نسته. له دې ډلې څخه یو هم د غزني ولایت دئ او د ګمرکونو او عوایدو معینیت په پام کې لري، چې دغه بهیر په راتلونکې کې د ټولو بې ګمرکه ولایتونو په مستوفیتونو کې هم پیل کړي. د بې اسناده موټرسایکلونو مالکین مکلف دي، چې ترتیب سوې فورمې کمپیوټري ډکې کړي او دوه کسان د تضمین په توګه، چې کم تر کمه یو ئې برېښنایي تذکره ولري اړوندو مستوفیتونو یا ګمرکونو ته ور معرفي کړي، څو دوی ته د اسنادو په ورکړه کې ډاډ او څښتن ته ئې د پروسې د پرمخ وړلو پرمهال کې اسانتیا رامنځته سي. په همدې اساس د مالیې وزارت د بې اسناده وسایطو له مالکینو څخه په درنښت غوښتنه کوي، چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي او خپلو بې اسناده وسایطو ته قانوني سندونه تر لاسه کړي.

**درنښت**
**اداره**

## د مالیې وزیر ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د خپلو رسمي ولایتي سفرونو په لړ کې، د دغه وزارت د مالي او اداري سلاکار او د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ د رئیس په ملتیا ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونو ته سفر وکړ. نوموړي، د دغه سفر په لړ کې د یادو ولایتونو له مستوفیتونو او هلته د ملي بانک، نوي کابل بانک او پښتني بانک د ولایتي څانګو له چارو څخه لیدنه وکړه او د عوایدو راټولولو بهیر، په لګښتونو کې د سپما اصل په پام کې نیول او د بانکي خدمتونو چارې له نږدې وارزولې او د چارو د لا ښه والي په موخه ئې مسئولینو ته لازمي سپارښتني هم وکړې.




د مالیې وزیر او مل پلاوي د ولایتي مسئولینو پرمختګونه وستایل او د هغوی ستونزي ئې هم واورېدې، چې ستونزو ته د رسېدو په موخه د اصولي اجراآتو بشپړ ډاډ ورکړل سو.

## د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ پرانیسته وسوه

په نادر پښتون واټ کې د نږدې (۳۴) میلیونه ډالرو په لګښت، نوی خیرخواه سوداګریز مارکېټ، چې په (۹۳۶۱) متر مربع ځمکه کې د دوه پوړیزي ځمکتل په لرلو سره د (۹) پوړونو (۱۳۰۰) هټیو، (۲۰۰۰) وسایطو له پاره د پارکینګ، یوه جومات، د لیفټ، برېښنایي زینو، ښاري او لمریزې برېښنا، د اور وژنې او امنیتي سیستم درلودونکی دئ؛ له نړیوالو معیارونو سره سم جوړ او ګټې اخیستني ته وسپارل سو. د دغه ستر سوداګریز مارکېټ د پرانیستني په مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص او یو شمېر نورو امارتي لوړ پوړو چارواکو، ملي سوداګرو او پانګوالو برخه اخیستې وه. په جوړه سوې غونډه کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال وویل، چې دغه سوداګریز مارکېټ د عامه او خصوصي مشارکت د کړنلارې مطابق جوړ سوی، د اسلامي امارت او خصوصي سکټور ترمنځ د ژورې همکارۍ ښکارندویي کوي او د دې سوداګریز مارکېټ له لارې به د پېر او پلور په برخه کې مثبت بدلون رامنځته سي او سوداګر او پانګوال به وکولای سي، خوندي او ډاډمنه پانګونه وکړي. وروسته بیا د مالیې وزارت اداري معین په خپلو خبرو کې وویل، چې په اسلام کې اقتصاد یو اصل دئ او د هغه د ودې او پرمختګ له پاره انسان مکلف دئ، چې له نړیوالو اسلامي نورمونو او مقرراتو سره سم زیار وکاږي. له اقتصادي پلوه پر پښو درېدل د ملتونو د سیاسي خپلواکۍ تر ټولو مهمه او اساسي برخه ده. هر ملت چې اقتصادي برخه پیاوړې کړي، ورسره سم ملت د پرمختګ تمدن، ویښتیا، ثبات، ځان بسیاینې او خپلواکۍ پر لور حرکت کوي او د نورو له فشارونو، فرمایشونو او نه منونکو غوښتنو څخه د خلاصون پر لور ګام اخلي، چې په دې لړ کې یو له مهمو ګامونو څخه د خیرخواه مارکېټ دئ، چې تاسو ټول ئې د پرانیستغونډې ګډون وال یاست. د یادونې ده، چې د نوي خیرخواه سوداګریز مارکېټ د جوړولو چارې د چارو ادارې تر مدیریت لاندي د خصوصي سکټور (ملي سوداګرو ټولنې) له لوري ترسره سوې، چې مالیې وزارت، ملي بانک، کابل ښاروالۍ او خصوصي سکټور ئې د مالکیت حق لري.



## د روان کال د مرغومي په میاشت کې د هیواد ګمرکي چارو (۱۵،۷) سلنه پرمختګ کړی دئ

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د مرغومي په میاشت کې په ګمرکونو کې د ترسره سویو چارو د تخنیکي ارزونې ناسته پر لیکه او حضوري بڼه وسوه. په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین، د ګمرکي عوایدو د زیاتوالي، د مسئولینو او کارکوونکو ترمنځ د تجربو په شریکولو، د کارکوونکو د وړتیا لوړولو، د قاچاقي او ممنوعه توکو د مخنیوي، په دقیق ډول د خالي بار وړونکو موټرو د وزن معلومولو او د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه د ولایتي ګمرکونو مسئولیتو ته لازمي سپارښتني وکړې. ورپسې د ګمرکونو لوی ریاست د پلان جوړونې، پالیسۍ، څارنې او ارزونې ریاست له لوري د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د مرغومي په میاشت کې په ګمرکونو کې د تر سره سویو فعالیتونو ټولیز راپور وړاندې سو. په یاده موده کې د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په ګمرکونو کې د ترسره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو د ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندې سول، چې له مخې ئې د تېر کال د همدې مودې په پرتله، د ګمرکونو چارې (۱۵،۷) سلنه مثبتې وښودل سوې. د وړاندې سوي راپور په تړاو هر اړخیز تخنیکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولایتي ګمرکونو د مسئولینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول، چې د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړیني سپارښتني هم شریکي سوې.





د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه


م ۲




د سویل او سویل لوېدیځ زون د مستوفیتونو او ګمرکونو نویو ګومارل سویو کارکوونکو ته پر لیکه روزنیز پروګرام جوړ سو


م ۲




د غزني ولایت په مستوفیت کې د بې اسناده موټر سایکلونو د ثبت او محصول پروسه پیل سوه


م ۲




تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي


م ۲




تفتیش مؤثر و اهمیت آن


م ۳




د «ټرانس – افغان» دهلېزه په تړاو د قزاقستان هڅه


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

## د غزني ولایت په مستوفیت کې د بې اسناده موټر سایکلونو د ثبت او محصول پروسه پیل سوه



د بې اسناده موټر سایکلونو د ثبت او محصول په برخه کې د لا اسانتیا رامنځته کولو په موخه د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو معینیت مقام پرېکړه کړې ده، چې په هغو ولایتونو کې د موټرسایکلونو د ثبت او محصول بهیر پیل کړي، چې گمرک ونه لري. په دې لړ کې دغه بهیر د غزني ولایت په مستوفیت کې پیل سو. دغه پروسه په هغو ولایتونو کې لا پخوا پیل سوې وه، چې گمرکونه لري او اوس مهال هم په پوره چټکتیا سره روانه ده. له دې سره د غزني ولایت اوسېدونکي کولای سي دغه مستوفیت ته مراجعه وکړي او خپلو وسایطو ته قانوني سندونه جوړ کړي. د ماليې وزارت په دغه ولایت کې د موټر سایکلونو له مالکینو څخه غوښتنه کوي، چې له دې فرصت څخه گټه واخلي او خپلو موټر سایکلونو ته قانوني سندونه جوړ کړي.

## د نیمروز ولایت د گمرک (۹۰) تنه نویو گمارل سویو کارکوونکو ته روزنیز پروگرام پیل سو




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳) هـ.ل کال له تدریسي پلان سره سم، د ساحوي روزنیزو پروگرامونو په لړ کې دا ځل د نیمروز گمرک (۹۰) تنه نویو گمارل سویو کارکوونکو ته په دوو جلاو شفټونو کې د گمرکي مسایلو د زده کړې او د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه د گمرکي قوانینو، گمرکي کړنلارو، گمرکي بیې ټاکنې، تعرفې او اړوندو نورو برخو په تړاو نظري او عملي روزنیز پروگرام پیل سو. دغه روزنیز پروگرام، چې دوه اوونۍ به دوام وکړي د یاد گمرک د کارکوونکو مسلکي او مدیریتي اړتیاوي به بشپړې او ستونزې به ئې حل کړي.

## د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه

د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په پیل کې د گمرکونو او عوایدو معین گډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنگ د چارو د لا ښه والي، د ادارو ترمنځ د پراخې همغږۍ رامنځته کېدو او نورو اړینو مسایلو په تړاو خبرې او سپارښتنې وکړې.



په دې ناسته کې د تېرې ناستې پرېکړې و ارزول سوې، تعین سویو کمېټو خپل راپوورونه وړاندې او له هر اړخیز بحث وروسته لازمي هدایات وړاندې سول. د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د گډو همکاریو د پیاوړتیا په موخه ناستې جوړېږي او راتلونکو ناستو ته ئې پایلې وړاندې کېږي.

## د سویل او سویل لوېدیځ زون د مستوفیتونو او گمرکونو نویو گومارل سویو کارکوونکو ته پر لیکه روزنیز پروگرام جوړ سو

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست، د جنوب او جنوب غرب زون د مستوفیتونو او گمرکونو نویو گومارل سویو کارکوونکو ته د «مدیریت د اساساتو» تر سرلیک لاندې روزنیز پروگرام جوړ کړ. په هغه ناسته کې، چې په همدې تړاو د دغه وزارت اداري معینیت د غونډو په تالار کې جوړه سوې وه، اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د روزنې او ظرفیت لوړوني آمر، محمد نادر همایون، د دې وزارت د جومات ملا امام مولوي وصیف احمد احمدي او یو شمېر نویو گومارل سویو کارکونکو پر لیکه گډون کړی وو. اداري معین په خپلو خبرو کې وویل، چې د هر کار اساس زده کړه او پوهه ده. د زده کړې او پوهې په واسطه کولای سو ټول کارونه په اصولي توگه تر سره کړو. نوموړي، له گډونوالو څخه وغوښتل؛ ترڅو په پوره دقت او جدیت له دې فرصت څخه گټه واخلي او هر هغه څه، چې دلته زده کوي یاد داشت او له نورو کارکونکوسره ئې شریک کړي. د روزنې او ظرفیت لوړوني آمر وویل، چې د دې پروگرام په مرسته تاسو کولای سئ خپلې چارې په ښه توگه مخته بوزئ، له همدې کبله له دې پروگرام څخه په گټه اخیستو سره خپل ظرفیت لوړ کړئ او په اخلاص او پاک نیت خپلې چارې ترسره کړئ. د یادوني وړ ده، چې یاد پروگرام به (۱۰) ورځې وغځېږي او په هغه کې به گډونوالو ته د پلان گذارۍ، سازماندهۍ، رهبرۍ، کنټرول، تصمیم نیوني او له کارکوونکو او مراجعینو سره د چلند په تړاو روزنه ورکړل سي.



## د مستوفیتونو د مالیه ورکوونکو د خدمتونو څانگې کارکوونکو ته ۱٦ ورځنی روزنیز پروگرام پیل سو


د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم، د مرکز او ولایتي مستوفیتونو د مالیه ورکوونکو د خدمتونو څانگې (۴۰) تنو آمرینو او مدیرانو ته د مالیاتي، قوانینو، طرزالعملونو، مالیاتي پرېکړو او مالیاتي سیستمونو په برخو کې د مسلکي کولو تر سرلیک لاندې روزنیز پروگرام پیل سو. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال انجنیر خان محمد ذاکر، د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست د استخدام آمر مفتي نیاز منصور، د دعوت او ارشاد ریاست مدرس شیخ محمد مبین امیني،



د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د یادې اکاډمۍ ښوونکو گډون کړی وو. د غونډې په پرانیستې وینا کې د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال، د اسلامي نظام پر ارزښت خبرې وکړې او له کارکوونکو څخه ئې وغوښتل، چې له دغه روزنیز پروگرام څخه پوره گټه پورته او خپلو مسئولیتونو ته پام واړوي. د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مدرس په خپلو خبرو کې وویل: (الله جل جلاله) آمر کوي، چې تاسې امانت خپلو اهلو کسانو ته وسپارئ؛ نو د دین زده کړې، تقوا، د حقوقو پېژندلو، له حرامو څخه ځان ساتلو او له گناه څخه وروسته توبې کولو ته ډېره پاملرنه ساتئ). د یادولو ده، چې دغه روزنیز پروگرام به (۱٦) ورځې دوام وکړي، چې له دې سره به د دغو کارکوونکو وړتیاوې لوړې او د اړوندو ادارو په چارو کې به لا ښه والی راسي.

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار، فراه، ننگرهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (۲۲۳۲۴) کیلو گرامه چاکلېټ، (۱۴۰۱۳) کیلو گرامه گوړه، (۱۴۲۵) کیلو گرامه خام نخود، (۱۱۰۰۰) کیلو گرامه کینو، (۱۴۲۸) کیلو گرامه مکروني، (۲۳۸۵) خالي بوجۍ، (۱۲۰۰) کیلو گرامه رُب، (۲۱۷۸) کیلو گرامه بېلابېل ډول پلاستیک، (٦۱۰) کیلو گرامه درمل، (۳۷۵) کیلو گرامه د دیگ مساله، (۵۵۳) کیلو گرامه ځکمني توت، (۳۰۰) کیلو گرامه گوگړ/اورلگید او (۱۸۰) کیلو گرامه ملايي شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې گرځنده څارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.



## د دعوت او ارشار ریاست مسئولینو یو شمېر ولایتونو ته سفر وکړ

**د ارشاد او دعوت ریاست د پلاوي ولایتي سفرونه**

د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد په مشرۍ پلاوي بلخ، هرات او کندهار ولایتونو ته سفر وکړ. ښاغلي سیف الخالد په دغه سفر کې د یادو ولایتونو له والیانو سره د لیدني سربېره د گمرك او مستوفیتونو له مسئولینو سره هم ولیدل. د دغو لیدنو موخه، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو له پلي کولو څخه څارنه، کارکوونکو ته له مراجعینو سره د ښه چلند سپارښتنه او چارې په اغېزمنه توگه ترسره کول او له دغه ریاست سره د ښې همغږۍ رامنځته کول دي. د یادوني ده، چې د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د پلاوي دا لومړنی ولایتي سفر دئ او د دغو موخو د تعقیب په موخه به نورو ولایتونو ته هم سفرونه وکړي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# تفتیش مؤثر و اهمیت آن

احسان الله نکته دان کارشناس ریاست
عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه

اهمیت تفتیش به هیچ کسی پوشیده نیست. هر کس به اهمت آن آگاه بوده در تمام کشورها؛ چه در کشور های پیشرفته و چه در کشور های عقب مانده و رو به انکشاف اهمیت تفتیش برازنده بوده هیچ کسی نمی تواند از آن چشم پوشی و احساس بی نیازی نماید. اما اهمیت آن زمانی برجسته می شود که مؤثریت داشته باشد. و این که تفتیش مؤثر چیست و چه زمانی می توان تفتیش را مؤثر گفت و اهمیت آن در چیست و چه چیز باعث مؤثریت آن می شود و چه چیز از مؤثریت آن می کاهد، در این مقاله به صورت فشرده به آن پرداخته می شود. نخست درخور ذکر می دانیم که یاد آور شویم تفتیش مؤثر بر محور کیفیت، لیاقت و رویکرد ها و استقلال نهاد تفتیش می چرخد. در عمل تفتیش مؤثر نسبت به تفتیش غیر مؤثر بسیار آسان است تا آن را تعریف کنیم. به هر صورت، هر گاه برخی مشکلات در آینده آشکار شود، غیر مؤثر بودن تفتیش هویدا و روشن می شود. اما اگر کدام مشکل برجسته ای نمایان نشود، حقیقتی که تفتیش مؤثر نبود، ممکن است اشکار و هویدا نشود. و همچنان زمانی تفتیش را مؤثر می دانیم که در بدست آوردن اهداف تفتیش کامیاب بوده باشد. شرط لازم برای یک تفتیش مؤثر، داشتن یک نهاد مؤثر تفتیش و تیم تفتیش است. نهاد نیاز به طرز العمل و رویکرد های سازنده دارد وتیم تفتیش نیاز به شناخت درست از صنعت تفتیش شونده، توأم با قضاوت های درست، بی طرفانه و استقلال ذهنی دارد. غیر محتمل است که یک تیم غیر مؤثر تفتیش مؤثری را انجام دهد، مگر این که تصادفاً چنین کاری صورت گیرد. همین گونه مؤثریت تیم تفتیش پیش شرط ضروری برای مؤثریت تفتیش است. همچنان یک تیم مؤثر تفتیش، بسیار محتمل است که از یک نهاد مؤثر تفتیش که توانایی جذب افراد لایق و شایسته را دارد، و سیستمی را برای آموزش داشته و در فعالیت های حرفه ای و مسلکی ایشان را یاری می رساند، سرچشمه گیرد. یک نهاد مؤثر نمی تواند تیم مؤثری را تضمین کند و یک تیم مؤثر نمی تواند یک تفیش مؤثری را تضمین کند.

اما نبود اجزای سازنده این امر باعث نگرانی های حتمی کمیته تفتیش و ارزیابی کننده تفتیش می شود. محصول یک تفیش در شکل یک سلسله گزارشات و ارایه هاست. تا حدی، مؤثریت تفیش بر همان گزارشات و ارایه ها و بر سطح خدماتی که نهاد تفتیش ارایه می کند، قضاوت می شود. پی آمد یک تفتیش مؤثر مشمول صورت های مالی که یک نظر درست و منصفانه ارایه می دهد و سفارشات که نهاد چگونه می تواند پروسه خود را بهبود بخشد، می باشد. شناخت واضح از مؤثریت یک تفتیش پیش شرط و لازمه ارزیابی تفتیش است. مؤثریت ابعاد گسترده ای دارد که به هر دو؛ تفتیش به طور ویژه و به نهاد به طور عموم ارتباط می گیرد. افزون بر آن مؤثریت تا اندازه ای در چشم بیننده هویدا می شود. یعنی چیز های مختلف به افراد مختلف. مؤثریت مرکب از صلاحیت توافق رویه ای، کنتر ل کیفیت و اطمینان کیفیت است. توافق رویه ای به عنوان ابزار است که توسط نهاد و افراد به کار برده می شود تا اطمینان دهد که تفتیش با استاندار های تخنیکی مطابقت داشته؛ یعنی با مقررات حقوقی و استاندارد های تفتیش مطابقت دارد. گرچه مشکل است که قضاوت کنیم فلان تفتیش مؤثر است و فلان تفتیش غیر مؤثر. اما برخی ویژگی هایی است که می توان مؤثریت تفتیش را ارزیابی کنیم. این ویژگی ها مستلزم تیم مؤثر تفتیش است که دست کم یک عضو تیم تفتیش باید دانش کافی از صنعت و کسب و کار تفتیش داشته باشد. مفتش برای این که تفتیش مؤثر انجام دهد باید روابط مثبت با نهاد تفتیش شونده قایم کند، و به موارد زیر توجه داشته باشد:

۱- مکاتبه: مکاتبه با نهاد پیش از این که تفتیش آغاز شود راه را برای تفتیش بدون اشکال و بی عیب هموار می سازد. مهم نیست که ارگان کوچک باشد یا بزرگ، باید نهاد تفتیش شونده قبل از آغاز تفتیش، از برنامه آگاه شود.

۲- تفتیشی را انجام دهید که شما خودتان می خواهید تفتیش شوید. هیچ کسی مفتش که خود را همه چیز دان می پندارد، دوست ندارد؛ کسی که سخن می گوید




ولی هرگز گوش نمی دهد. کسی که قدرت خود را بر وظایف مردم اعمال می کند. کسی که از القای ترس در مردم لذت می برد. مفتش باید به دیگران احترام بگذارد، مشغول کار خود باشد، کنجکاو و شنونده خوب باشد و نباید قضاوت خود را به وسیله ایده های از پیش تعیین شده بر دیگران تحمیل کند و بر آن سایه افگند.

۳- دقیق و موشکاف باشد. مفتش باید از طریق کار به صورت دقیق، و جمع آوری شواهد قابل اعتماد، مصاحبه با برخی کارمندان پیش از رسیدن به یک نتیجه را انجام دهد و یادداشت های تفصیلی اخذ کند. با این همه، تفتیش یک هنر است، بنا بران انجام دادن آن به صورت درست باعث احترام نهاد تفتیش شونده و مردم می شود.

٤- تفتیش باید در ایجاد سودمندی ها و از بین بردن کاغذ پرانی ها یاری رساند. توانایی انجام این کار یکی از ویژگی های مفتش حرفه ای واقعی است. تفتیش باید کار های نهاد تفتیش شونده را آسان سازد و در تزیید سودمندی و باروری در ساحه کار نهاد تفتیش شونده را یاری می رساند.

۵- مفتش هرگز منفی گرا نباشد. مفتشان نباید منفی گرا باشد؛ چه در گزارشات شفاهی و چه در گزارشات نوشتاری. وی باید اذعان نماید که جز سیستم نهاد به شمار می رود. وی افسر پلیس یا سارنوال نیست و باید رویکرد همکارانه با نهاد تفتیش شونده داشته باشد. اگر چیزی عاجلی ظاهر شود، فوراً آن را به توجه مسئول اداره تفتیش شونده برساند.

٦- ترس را از پروسه تفتیش بردارید. به صورت ساده یاد آوری برخی اشیا در گزارش بعد از صدور معمولاً برای اداره تفتیش شونده ناراحت کننده است.

۷- یک مفتش که بتواند عنصر ترس را بزداید و تفتیش شونده را راحت سازد، می تواند همکاری ایشان را جلب کند.

۸- برنامه اقدامات اصلاحی مؤثر. اقدامات اصلاحی که به تفتیش شونده وضاحت می بخشد، ممکن است ایشان را برای بهبود تشویق کند. همین گونه برای موارد دیگری نیز است که در تزیید مؤثریت تفتیش نقش دارد که از ترس اطاله موضوع از ذکر آن اجتناب شد.

### اهمیت تفتیش مؤثر

نمی توان اهمیت تفتیش مؤثر را با جزئیات آن بیان کرد. برای هر نهاد چه دولتی و چه خصوصی باید دارای سیستم قوی باشد تا اطمینان دهد که اجراات مالی وغیر مالی ایشان درست و قابل ابتکار است. تفتیش های مؤثر تفتیش برازنده ای در اطمینان بخشی این که صورت های مالی عاری از اشتباهات، تقلب و اظهارات نادرست با اهمیت است، بازی می کند. در زیر برخی دلایلی که چرا تفتیش مؤثر مهم است اشاره می شود:

۱- رعایت. تفتیش مؤثر نهاد را یاری می رساند تا الزامات قانونی را رعایت نماید.

۲- مدیریت ریسک. تفتیش های مؤثر نهاد را در مدیریت ریسک یاری می رساند. از طریق شناسایی ساحات که کنترول مالی ممکن بهبود یابد، نهاد می توان ریسک تقلب و اشتباهات را کاهش دهد.

۳- کنترول داخلی مالی را بهبود می بخشد. تفتیش مؤثر اداره را در شناسایی ساحات که کنترول مالی اش قابل بهبود است یاری می رساند. تفتیش مؤثر نقش بارزی در اطمینان بخشی این که صورت های مالی اش درست است و قابل ابتکارست بازی کند.

در پایان قابل ذکر است که برخی چالش ها و محدودیت ها؛ از قبیل فقدان شفافیت، مداخلات سیاسی، منابع محدود، موانع قانونی و قلب کارمندان مجرب و مخلص باعث می شود تا در مؤثریت تفتیش کاهش ایجاد شود و مفتش نتواند وظایف خویش را به صورت مؤثر به انجام رساند.

# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د گمرکونو لپاره د ۲۵ عراده موټر سايکلونو د تهيې او تدارک په پروژه ) کې چې تشخصيه نمبر ئې (۱۱۲٦-NCB/G/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لارې د شرطپاڼې له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: د ماليې وزارت د تدارکاتو رياست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی رياست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ويب سايټ.

له داوطلبۍ څخه مخکې ناسته: د (۱۴۰۳/ کب/ ۱۱) نېټه له غرمې مخکې د سهار (۱۰:۰۰) بجې

د آفرپرانيستني ټاکلې نېټه: د (۱۴۰۳/ کب/ ۲۲) نېټه له غرمې مخکې د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: پنځه څلويښت زره او پنځه سوه (٤۵۵۰۰) افغانی.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## د داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رياست، غواړي چې د کابل ښار لومړۍ ناحيه کې د سينما پامير (۱۴) پوړيزې ودانۍ کې د پامير سينما تالار لومړی او دوهم پوړ چې د لومړي پوړ مساحت ئې (٦۲۹.۹۱) متره مربع او دوهم پوړ، چې لايټينګ لرونکي خوني لري او مساحت ئې (۲۹۰.٦۱) متره مربع دی او همدارنګه ټولټال مساحت ئې (۹۱۷.۵۲) متره مربع دی مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۵۵۹۲۹۹) افغانۍ ده د کلتوري فعاليتونو په موخه ئې د (۳) کلونو لپاره د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندې کوي.

کوردينات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۵۳٤۲

هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورته ذکر سوی ملکيت په کرايه ونيسي، کولای سي چې خپل غوښتنليکونه د (۱۴۰۳/ سلواغې/ ۲۷) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/کب /۱۷) نېټې پوري د امارتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپانه ترلاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/کب/ ۱۸) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## د داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رياست، غواړي چې د کابل ښار لومړۍ ناحيې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ (۳) بابه دوکانونه او د سينما پامير (۱۴) پوړيزې ودانۍ ختيځ لور ته له ميوند روغتون سره متصل دوه ويجاړ (مخروبه) سوې خونې په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندې کړي.

۱- د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند يو باب (۱٦۲) نمبر دوکان چې (۱۲.٦) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۴۱۱۱۰) افغانۍ ده د يو کال لپاره په کرايه ورکوي.

۲- د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند يو باب (۱۰۷) نمبر دوکان چې (۵.۸۵) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۲۵۳۰۰) افغانۍ ده د يو کال لپاره په کرايه ورکوي.

۳- د ظاهرشاهي مارکېټ اړوند يو باب (۱۱۸) نمبر دوکان چې (۵.۷) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۷٦۱۵۰) افغانۍ ده د يو کال لپاره په کرايه ورکوي.

کوردينات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ -۳٤,۵۱۷۱

٤- د کابل ښار لومړۍ ناحيې اړوند د سينما پامير (۱۴) پوړيزې ودانۍ ختيځ لور ته له ميوند روغتون سره متصل د دوه ويجاړ سويو اطاقونه چې (۴۴.۸۲) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۷۵۰۰) افغانۍ ده د (۲) کلونو لپاره په کرايه ورکوي.

کوردينات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲

هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورته ذکر سوي ملکيتونه په کرايه ونيسي، کولای سي چې خپل غوښتنليکونه د (۱۴۰۳/ سلواغې/ ۲۸) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ کب /۱۸) نېټې پوري د امارتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپانه ترلاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ کب/ ۱۹) نېټه، له غرمې مخکې د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




## Technical Committee Announces 'Customs Affairs Progressed by 15.7% in Month of Jadi 1403FY' Amid YoY Evaluation

The Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed has chaired a 'technical evaluation meeting' of the activities carried out at the customs in the month of Jadi/ 1403 in both online and in-person. At the beginning, DM Saeed has made necessary recommendations to the provincial customs authorities regarding increasing customs revenues, sharing experiences between officials and employees, enhancing the capacity of employees, preventing illicit and prohibited goods, accurately determining the weight of empty vehicles, and numerous of other marginalized issues.




The General Directorate of Planning, Policy, Monitoring and Evaluation presented a comprehensive report on the activities carried out at the customs in the month of Jadi/ 1403. During the aforementioned period, exhaustive information was provided on revenue collection, trade conducted at Afghanistan' customs, customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial shipments, which showed a positive increase of 15.7% based on YoY in customs operations compared to the same period last year. Comprehensive technical discussions were held regarding the presented report, and the problems and suggestions of provincial customs officials were heard for further progress, as the leadership assured them for removing the obstacles.

## New 'Khairkhwah Commercial Market' Inaugurated as High-ranking IEA Officials Attend

The new Khairkhwah Commercial Market that is located on Nader Pashtun Street at a cost of approximately $34 million with the total area of 9361m2 was inaugurated as owning a two-floor-basement building, with nine floors encompass 1,300 shops, parking for 2,000 vehicles, a mosque, an elevator, escalator, electricity and solar power, fire extinguishing and security systems. The commercial area is built in accordance with international standards, and handed over to the public. The inauguration ceremony of this large modern commercial market was attended by the Deputy PM for Administration Affairs, Maulawi Abdul Salam Hanafi; Deputy Minister for Administration, Maulawi Dost Muhammad Mukhlis, and a number of other senior IEA-run bodies' officials, businessmen and investors. At the meeting, the Deputy PM highlighted that this commercial market was established based on the public-private-partnership approach, demonstrating deep cooperation between IEA and the private sector. "By mean of this commercial market, a positive change will be made in the field of dealing, and traders and investors will be able to make safe and secure investments", added Deputy PM In addition, the DM for Administration of MoF explained in his speech that the economy is a principle in Islam and for its growth and development, person is obliged to strive in accordance with international Islamic norms and regulations. Growth, economically is the most important and fundamental part of the political independence of nations. "Every nation that strengthens its economic sector, accordingly, the nation moves towards progress, civilization, awakening, stability, self-reliance and independence, and takes a step towards liberation from the pressures, and unacceptable demands of others. One of the important steps in this regard is Khairkhwah Market, which you are all participants in the opening session of this commercial area", as Mukhlis emphasized. Notably, the construction of the new 'Khairkhwah Commercial Market' was carried out by the private sector 'National Traders Association' that is under the management of the DOP, as its owned by the MoF, the National Bank/BMA, Kabul Municipality, and the private sector.




## د «ټرانس – افغان» دهلېزه په تړاو د قزاقستان هڅه




پورټس یورپ ـ PORTSEUROPE، ټرانسپورټ کاریډورز - TRANSPORT CORRIDORS او ټرېنډ – trend درې واړو نړیوالو رسنیو په بېلابېلو سرلیکونو د «ټرانس – افغان» دهلېز په هکله رپورټونه خپاره کړي دي. پورټس یورپ لیکلي دي، چې د کې تې زَیډ ایکسپریس ـ KTZ Express په نوم د قزاقي اورګاډي ټرانسپورټي شرکت اجرائیه رئیس دمیر خوژاخمېدوف پاکستان ته په دې خاطر تللی، چې د ټرانس –افغان دهلېز هڅي کړندۍ کړي. د ټرانسپورټ کاریډورز رپورټ بیا زیاتوي، چې نوموړي قزاقي رئیس پاکستان ته د کاري سفر په ترڅ کې د پاکستان د لویو ټرانسپورټي او لوژیستیکي شرکتونو او د سوداګرۍ وزارت له استازو سره خبري وکړې. نړیوالو رسنیو دا ټکي راوړی دئ، چې وایي د قزاقي او پاکستاني چارواکو د بحثونو تمرکز د «ټرانس-افغان دهلېز» پر پراختیا باندي وو، کوم چې نه یوازي د سوېلي اسیا له پاره د سوداګریزي پراختیا فرصت ایجادوي؛ بلکي د منځني ختیځ هیوادونو له پاره هم نوی صادراتي ور پرانیزي. د رپورټونو په متن کي راغلي دي، چې د کراچي په بندر کي د کې تي زَیډ - KTZ قزاقي اورګاډي شرکت د امکاناتو ته ځانګړې پاملرنه هم وسوه، چې وایي په اړه ئې د ټرمینلونو له څښتنانو سره خبري اتري وسوې. ښاغلي خوژاخمېدوف رسنیو ته ویلي دي، چې قزاقستان له پاکستان سره د همکاریو د همکاریو د پراختیا له نظره لوی امکانات ویني. د نوموړي د خبرو ټکي پر دې جمله راګرځي، چې وایي: "زموږ د هیوادونو ترمنځ سوداګریز عاید له (۵۰) میلیونو ډالرو څخه ډېر دي." نړیوال رسنیو لیکلي دي، چې دا ډول ګډي هڅي به سوداګریزي او اقتصادي اړیکي پیاوړي کړي، د لاري سیالی به زور واخلي او د قزاقستان موقعیت به د مهم ټرانزیټي مرکز په توګه پیاوړی سي.




### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱

### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.

ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷٥٦ (+۹۳)

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلي مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.